مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقییده نو یسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر
۲۰۱۹/۰۵/۰۹

# ذبیح الله مجاهد د پاکستان د استخباراتو له خوا ورکړ شوی نوم

میان زاهدِ خشـــک ، کمـــتراهل دل بیني     به هرجا استخوانی هست ، مغزی درمیان دارد
کلیم
زشـیخ مغز حقیقت مجو ، که همچو حباب     سری ندارد ،اگــــــــــر واکنند، د ستارش

نظرمحمـــد مطمـــئن یـــا ذبـــیح الله مجاهـــد د پاکســـتاني اســـتخباراتو لـــه خـــوا ورکړشـــوی نـــوم چـــی پـــه دي بانـــدی ویـــاړي هـــم، داســـی زړه بګنـــونکي انتحـــاري حملـــي نـــه وي چـــي نظـــر محمـــد مطمّـــن چـــي مســـتعار نـــوم یـــی چـــي د (آی،اس،آی) لـــه خـــوا ورکـــړ شـــوی ، چـــي د داســـو وحشـــتناکواو خطرنـــاکوحملو مســـوولیت ده د خپـــل ګـــروپ پـــه آســـازیتوب پـــه غـــاړه نـــه وي اخیســـتی ،هغـــه انتهـــاری ترهګریـــز حملـــي چـــي نـــه یـــی جومـــات لیـــدلی ،نـــه مکتب،نـــه عامـــه ګڼـــه و ګونـــه ،پـــه هـــر ځـــای کـــي دوی انتحـــاری حملـــي تـــر ســـره کـــړي ،او نظـــر محمـــد مطمّـــن پـــه ډیـــر اطمینـــان او ویـــاړ ســـره یـــي پـــړه پـــه ځـــان منلـــي ده ،او اوس عجیبـــه د ســـولي د پروســـي پـــه غونـــډه کـــي پـــه بـــر ســـر کـــي ناســـت وي ،او د ســـولي د پروســـي غـــړی دی ،د بـــادارانو یـــی هـــم دا هیـــر شـــوی چـــي دا کـــار بـــه دوی ډیـــر خـــوار و ذلیـــل و ښـــایی ،ســـوال دا دی چـــي دی چـــا راوســـتو،د دي لـــوبی د پـــردي شـــاته څـــوک دي ،ظـــاهراً خـــو داســـي ښـــکاري چـــي چـــا چـــي راوســـتي دي د ســـولي پـــه پروســـي ریشـــخند وهـــي ،او پـــه افغـــاني چـــاروواکو هـــم ریشـــخند وهـــل دي ، ځکـــه دلتـــه یـــواځي د (آی،اس،آی) د تعلـــیم مســـله نـــه ده ، چـــي دوی تـــه تعلـــیم ورکـــول کیـــږي ، او ښـــودل کیـــږي ، بلکـــه (آی،اس،آی )تـــه هـــم د یوخـــوا ځخـــه هـــدایت او لارښـــودنه کیـــږي ،هغـــوی چـــي طالبـــان یـــی مینـــځ تـــه راووســـتي او د سیاســـت میدان کـــي یـــي ګـــډوي ،لـــوی لاس د هغـــو ورســـره دی ، مطلـــب د لیکنـــي نـــه دا دی چـــي تـــول هغـــه واقعـــي غمخـــواران د وطـــن چـــي د وطـــن پـــه حـــالاتو ځـــوریږي ،او ســـولي د پـــاره کوششـــونه کـــوي هغـــوی بایـــد دي تکـــو تـــه پـــام وســـاتي ، او ځـــان بیـــداره ونیســـي ،ځکـــه مـــونږ د حضـــرت ســـنایی علیـــه الرحمـــه پـــه وینـــا داســـي دیوانـــو ســـره مـــخ یـــو چـــي د انســـان پـــه صـــورت کـــي دي ، او کـــوم صـــدق او صـــفا چـــي پـــه دیـــن کـــي ده تر هغي ناخبره دي ،لکه څنګه چي وايي:

همه از راه صدق بی خبرند     آدمی صورتند و لیک خرند
مکتب شـرع را ندیده هنوز     بر دَرِی عـقل نارِیده هنوز
همـه دیوان آدمـــی رویـنـد     همـه غولانِ،بی رهي پوینـد

پـــه اصـــل کـــي دوی د پـــردو لـــه خـــولي ، یـــو څـــه زده کـــړي ، چـــي هماغـــه طـــوطي واره تکـــراروي او غږیږي ، بیا هم د سنایی علیه الرحمه شعر دی چي وايی :

همه باز آشیـــان ،شاهین خشم     همه طوطی زبان کرکس چشم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

**په حقیقت کې طالب خو په خپل واک کې نه دی ،چې له یوې خوا د سولې پروسې ته کښېني او د بلې خوا د جنګ اعلان وکړي ،په دې کار باندې د دوی د اسرارو نه هم پرده اوچتیږي ، داسې نه ده چې د طالبانو نه یواځې سهوی کیږي ، د دوی بادران هم سهوی کوی ،او ورځ تر بله ځان رڼښانه او واضحه ښايي ،په دې ملت کې داسې کورنۍ به نه وي چې د طالب په انتحاري حملو کې به یې یو تن د لاسه نه وي ورکړی ، نو زه نه پوهیږم ، ملت خو یې ټول خپل دښمن ګرځولی آیا دوي په زور غواړي دا قدرت تر لاسه کړي ، او که څنګه ؟ د بلې خوا په دې وروستیو کې ،کوم ۲۵۰کسیزو هیت په هکله هم دوي خپل غږ جګ کړي چې دا خو څه واده په هوټل کې نه دی، چې دومره کسان دې ګوندې دې پروسی ته راشي ، دلته هم د دوي خورا بی سوادی او د معلوماتو نشتون ښايي ، ځکه افغانستان د مساحت له لحاظه د دنیا د څلورو قدرتونو څخه لوی دی ، چې د (جرمني،فرانسه،جاپان،انګستان) د دې ملکونو څخه په کافی اندازه لوی دي ، نو دا حق دی چې ډیر آستازي د دې پروسی د پاره د حکومت له خوا ورشي ،که څوک دا ادعا وکی چې دا بی ځایه مصارف دي هغوی سهوی کوی ، په داسې ځایو کې مصارف ضرور وي ، که طالب د دې ویره لري چې د آستازو په زیات والي سره په د دوي دلایل او برهان ضعیف راشي ،او د یوې لوی اجماع فیصله او نظریات به غښتلي یا قوی راشي ،دا د دوی د دې خبرو څخه ښکاره کیږي ، او انسان ګمان کولای شي ، چې د دوی اصلي مطلب به همدا وي، او شاید څه نور مطلب هم ولري ، خو په ظاهره دغه څه چې ما ولیکل د دوي د کړو وړو څخه ډیر ښکاري ، چې د قدرت د پاره ډیره هڅه کوي ، پاکستان د کومی ورځې چې مینځ ته راغلی او انګلیسانو جوړ کړی ، دهمغې ورځې نه تر ننه پوري ، د انګلیسانو څخه نظر اخلي ، او طالبان هم انګلیسانو مینځ ته راووستي ، نو په کار ده چې زمونږ چارواکې ، په زړه بیداره اوسي ،او داچې دوی ځان آخوا دیخوا تیروی د دې دپاره چې د ملت پام بل خوا واړوي ، او دوي سره د تیرو کلنو د انتحاري یرغلونو حساب ونه شي ،او یا به نور مطلب ولري ، کوم چې بادارانو ورښودلي دي**



**د ـ آی، اس، آی ـ چل و ول**

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ